**له افغانستان نه د امریکایي ځواکونه له وتلو سره د امریکا د مزدورانو مخالفت**



د اناضول خبري اژانس د راپور پر بنسټ د افغانستان د سولې د عالي شورا رئیس محمد عمر داودزي له افغانستانه د امریکایي ځواکونو له وتلو سره مخالفت کړی او غواړي نور هم هېواد په هغه اشغال کې پاتې شي چې نسلونه او فصلونه یې له هلاکت سره مخ کړي دي. هغه د امریکا له CNN شبکې سره په خبرو کې ویلي دي: «که دا وتل په نامنظم ډول ترسره شي او یوه امنیتي تشه را منځته کړي، د زیاتې وینې تویېدنې لامل به شي.»

دا دی د امریکا او غرب د غلامانو واقعیت، چې یوځای یې په ټانګونو کې راوړل او ددغه اشغال شوي هېواد حکام یې کړل. طبیعي ده چې دغه رزیلان په سستو او ناسمو بهانو سره له هېواده د امریکایي ځواکونو د وتلو مخالفت کوي. د مزدورو حکمتونو مسئولین پوهېږي که امریکا یې یوه اونۍ له ملاتړه لاس واخلي، امت به د لاسپوڅو ډلې په توګه ورسره خبرې وکړي. لکه څنګه چې ټرامپ په خپلو خبرو کې دې مسئلې ته اشاره کړې او سعودي یې مشخص کړ. نو د اشغال له وخته د افغانستان او سعودي تر منځ چې د بلک واټر کمپنۍ د اخبار د نه افشاء کولو له امله چې د مسلمانانو د وینې تویونې بوی ترې څي، د امریکایي ځواکونو له شتونه انکار کوي، هېڅ توپیر نه شته. همدارنګه له مصر سره هېڅ توپیر نه لري، چې امریکا هر کال نږدې ۱.۵ مېلیارده ډالر د لویو نظامي رهبرانو د ژمنو جلبولو لپاره لګوي، ترڅو په مصر کې امریکایي نظام رامنځته کړي او دغو ته ورته نور هېوادونه.

نو ددغو مزدورانو ژوند د کفارو په ملاتړ کې دي، دوی پوهېږي چې امت ور څخه بېزاره دی او دوی له یوې جبرې اړیکې او حکومت پرته، چې امت یې په بې صبرۍ سره پای ته د رسېدو په تمه دی، بل څه نه دي یو ځای کړي. هغه انتظار چې په ډېرو هېوادونو لکه نني سوډان کې له دغو مزدورو حکامو څخه د خلاصون لپاره هر شبېه د خلکو احساسات را پاروي.

**رضوان ملک**

**ژباړن: زمری دوست**